# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**10قوس_سال 1403**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه

حقاني: د کډوالی نړیوال سازمان دې له افغان کډوالو سره د بېرنیو مرستو پرځای د هغوی د اساسي ستونزو حل ته لومړیتوب ورکړي 1

د مهاجرینو چارو مسلکي معین نن د خپل سفر په ترڅ کې د هلمند ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو ریاست څخه لیدنه وکړه 3

د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال د هلمند له مرستیال والي سره وکتل--------------------------------------4

مشاور امور داخلی سفارت ترکیه، با رئیس پالیسی وپلان وزارت امور مهاجرین، دیدار تعارفی نمود ------------------5

نیمروز کې له مهاجرینو سره د مرستې په موخه د بنستونو استازو سره لیدنه وشوه --------------------------------6

کارسروی توپو گرافی شهرک مهاجرین ولایت کاپیسا آغازشد---------------------------------------------------7

سرپل ولایت کې د تلپاتې استوګنې او څمکو وېش کمېټې لومړنی ناسته وشوه --------------------------------------8

ده ها خانواده در ولایت پکتیکا کمک شد ----------------------------------------------------------------------9

نزدیک به 30 خانواده در ولایت دایکندی کمک نقدی دریافت نمودند ---------------------------------------------9

# متن کامل اخبار

## حقاني: د کډوالۍ نړیوال سازمان دې له افغان کډوالو سره د بیړنیو مرستو پرځای د هغوی د اساسي ستونزو حل ته لومړیتوب ورکړي

د وزارت ویب سایت

خبرنامه


باختر
اطلاعاتي اژانس

کابل، د لېندۍ ۸مه، باختر

د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست ښاغلي خلیل الرحمن حقاني په خپل کاري دفتر کې د کډوالۍ نړیوال سازمان له نوي مشرې مي هیونګ پارک سره تعارفي ناسته کړې ده.

له یاد وزارت څخه په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې په دغه ناسته کې د راستنېدونکو ستونزو ته په رسېدنې، د بشري مرستو په څرنګوالي، د ژمنیو مرستو په چټکتیا او دوارو لوریو ترمنځ د همغږۍ په زیاتوالي خبرې اترې شوې دي.

سرچینې زیاته کړې، چې ښاغلي حقاني په دې کتنه کې نوموړې ته د نوې دندې مبارکي ویلې او زیاته کړې یې ده، چې کډوال په لوړ شمېر کې هېواد ته راستنېږي او سرپناه، ښوونې، روغتیايي خدمتونو او اقتصادي ملاتړ ته اړتیا لري.

نوموړې د کډوالۍ نړیوال سازمان څخه غوښتنه کړې، چې په دې برخه کې خپل مسولیت په ښه توګه ادا او د بېړنیو مرستو برخګې اساسي ستونزو ته لومړیتوب ورکړي.

په ورته وخت کې د افغانستان لپاره د کډوالۍ نړیوال سازمان مشرې په دغه کتنه کې ویلي چې یاد سازمان د نړۍ په ګڼو هېوادونو کې کار کوي، خو په افغانستان کې د حکومت له لوري کډوالو ته ښه توجه دوی تشویقوي، څو دغه هېواد ته لومړیتوب ورکړي.

هغې زیاته کړې، چې د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت له همکارۍ پرته یې فعالیتونه ناشوني دي او ډاډ یې ورکړی، چې د خپلو فعالیتونو د لا ښه والي او اغېزمنتوب هڅې به وکړي.

معین مسلکی وزارت امور مهاجرین، با والی ولایت قندهار دیدار نمود

الحاج مولوی عبدالرحمن راشد معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان، با ملا شیرین،  والی ولایت قندهار، دیدار کرد.

در این دیدار که مولوی بادام، رییس امور مهاجرین ولایت قندهار، الحاج غلام نبی الله دادخیل ستانکزی رئیس حمایت حقوقی و  عضای هیات تخنیکی وزارت نیز حضور داشت روی موضوعات حل مشکلات مهاجرین و بیجاشده گان داخلی در آن ولایت بحث شد

والی قندهار در این ملاقات از همکاری اش در رسیده گی به حل مشکلات بیجاشده گان و مهاجرین به محترم راشد اطمینان داد.

## د مهاجرینو چارو مسلکي معین نن د خپل سفر په ترڅ کې د هلمند ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو ریاست څخه لیدنه وکړه

د وزارت ویب سایت



د سفرونو د لړيو پر دوام د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو مسلکي معين نن هلمند ولايت ته ولاړ او د هلمند ولايت د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو رياست څخه يې ليدنه وکړه .

ښاغلي راشد په دې ليدنه کې د دغه رياست له کارکوونکو سره وليدل او د بې خايه شويو او راستنېدونکو ته د خدمتونو ترسراوی يې خپل کاري لومړيتوب وباله.

نوموړي همدا راز د شريعت د اصولو او قواعدو پر پابندی، په دندو کې پر اخلاص او رونتيا او مراجعېنو سره پر نيک چلند ټينګار وکړ .

د هلمند ولايت د مهاجرينو رييس مولوي الله داد انقيادي د مهاجرينو چارو مسلکي معين ته ښه راغلاست ووايه او د دغې ادارې د کارونو په اړه يې له ښاغلي معين سره معلومات شريک کړل .

همدا ډول يادو کارکوونکو ښاغلي معين صيب ته د غوره خدمتونو د وړاندې کولو او د چارو د ښه والي په برخه کې د همکارۍ ډاډ ورکړ.

## د مهاجرينو چارو وزارت مسلکي مرستيال د هلمند له مرستيال والي سره وکتل

د وزارت ويب سايت



**د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت مسلکي مرستیال الحاج مولوي عبدالرحمن راشد د هلمند ولایت له مرستیال والي مولوي محمد نبي حماس سره وکتل .**

**په دې کتنه کې له مسلکي مرستیال سره د هلمند ولایت د مهاجرینو چارو رییس مولوي الله داد انقیادي، د وزارت د حقوقي ملاتړ رییس الحاج غلام نبي الله داد خېل ستانکزی او د وزارت د تخنیکي تیم غړي هم مل وو.**

**په دې ناسته کې د مهاجرینو د ستونزو د حل او په دغه ولایت کې د داخلي بېځایه شویو په اړه خبرې وشوې .**

**د هلمند مرستیال والي ښاغلي راشد ته د راستنېدونکو، بېځایه شویو د ستونزو د حل په برخه کې د هر اړخیزې همکارۍ ډاډ ورکړ.**

## مشاور امور داخلی سفارت ترکیه، با رئیس پالیسی وپلان وزارت امور مهاجرین، دیدار تعارفی نمود

ویب سایت وزارت



**آقای ظفر کیشی مشاور امور داخلی و آقای امین اورهان دره لی سکرتر دوم سفارت ترکیه مقیم کابل، با مولوی محمود الحق احدی، رئیس پالیسی و پلان وزارت، دیدار تعارفی نمودند.**
**در این دیدار روی موضوع مشکلات مهاجرین افغان در ترکیه بحث صورت گرفت.**
**آقای احدی با خوش آمدید به جانب مقابل گفت:روابط خوب با جانب کشور ترکیه داریم، با آمدن امارت اسلامی مشکلات کاسته شده و زمینه های خوب برگشت افغان ها به کشور شان مساعد شده است.**
**وی خواستار همکاری های بیشتر سفارت ترکیه در جهت اشتغالزایی و برنامه‌های آموزشی در کشور شد.**
**مشاور امور داخلی سفارت ترکیه اهداف این نشست را داشتن روابط بهتر در رسیدن به حل مشکلات مهاجرین افغان دانست.**
**وی گفت، مشکلات را با ما شریک ساخته تا در تشریک مساعی با مقامات عالی کشور ترکیه آن را در جریان گذاریم و بتوانیم در تفاهم با همدیگر به نتایج مثبت دست یابیم.**

## نیمروز کي له مهاجرینو سره د مرستي په موخه د بنسټونو استازو سره لیدنه وشوه

د وزارت ویب سایت



**په نیمروز ولایت کې د مهاجرینو د ستونزو ته د بنې رسېدنې په موخه د نیمروز مرستیال والي سید سلیمان اغا بهیر دغه ولایت کې ځینو رییسانو او د بنسټونو استازو سره ولیدل.**
**په دې لیدنه کې د دغه ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو رییس ملا عبدالله ریاض هم ګډون کړی و.**
**مرستیال والي له مهاجرینو سره د مرستو په اړه هراړخیزې خبرې وکړې او زیاته یې کړه، چې له افغان مهاجرینو سره مرسته اسلامي، ملي او افغاني مسولیت دی او هر افغان ته پکار ده، چې خپل مسولیت ترسره کړي.**
**د نیمروز د مهاجرینو چارو رییس په ساړه موسم کې له مهاجرینو سره د بنسټونو د همکارۍ او مرستې غوښتنه وکړه.**
**د بنسټونو استازو د مرستو په برخه کې د همکارۍ ډاډ ورکړ.**

**کارسروی توپو گرافی شهرک مهاجرین ولایت کاپیسا آغازشد**
ویب سایت وزارت



**به اساس گزارش آمریت مهاجرین وعودت کننده گان ولایت کاپیسا، کار سروی توپوگرافی شهرک مهاجرین آن ولایت به تاریخ 6 قوس آغاز شد.**
**شهرک متذکره در مساحت 1500 جریب زمین واقع دشت ناگمان از مربوطات مرکز آن ولایت قرار دارد که جهت ترتیب پلان های تفصیلی توسط تیم تخنیکی اعزامی وزارت شهر سازی ومسکن با اشتراک رییس شهر سازی ومسکن و آمر امور مهاجرین به همکاری کارمندان فنی و تخنیکی آغاز گردید وکار در ساحه عملا جریان دارد.**

## سرپل ولایت کې د تلپاتي استوګنې او ځمکو وېش کمېټي لومړنۍ ناسته وشوه

د وزارت ویب سایت

**د سرپل ولایت د والي په مشرۍ او د اړوندو ادارو د رییسانو په شتون کې د امیرالمومنین د فرمان د پلي کېدو په موخه د لېندۍ پر اومه د مهاجرینو او راستنېدونکو د تلپاتې استوګنې او د ځمکو وېش کمېټې لومړنۍ ناسته وشوه.**
**لومړۍ د امیرالمومنین فرمان ولوستل شو او د سرپل ولایت د سیداباد ولسوالۍ د چهل ګزې ذکه د مهاجرینو ښارګوټي د فرصتونو، ستونزو او ننګونو په اړه بحث او خبرې وشوې.**
**په پای کې پرېکړه وشوه چې د کمیټې غړي به د دغه ښارګوټي سیمې ته لاړ شي، چې شته ستونزې او ننګونې له نږدې وڅېري، د ښارګوټي لپاره ځمکه تصفیه کړي، نقشه یې کړي او په راتلونکي ناسته کې یې بشپړ راپور وړاندې کړي.**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

## ده ها خانواده در ولایت پکتیکا کمک شد

ویب سایت وزارت




**برای 73 خانواده در ولایت پکتیکا جهت اعمار سرپناه مساعدت نقدی به تاریخ 7 قوس توزیع شد.**
**خانواده های متذکره قبلاً در هماهنگی ریاست مهاجرین آن ولایت در و لسوالی گیان سروی شده بودند.**
**کمک یادشده مبلغ 79 هزار و 450 افغانی از جانب اداره هماهنگ کننده کمک های بشری سازمان ملل متحد توزیع شد.**

## نزدیک به 30 خانواده در ولایت دایکندی کمک نقدی دریافت نمودند

ویب سایت وزارت




**برای 28 خانواده درای نیازمندی خاص در ولایت دایکندی، کمک نقدی  بتاریخ 7 قوس توزیع شد.**
**کمک یاد شده مبلغ 18 هزار و 60 افغانی بود که پس از شناسایی توسط آمریت امور مهاجرین آن ولایت از طرف موسسه و ستا در مرکز دایکندی توزیع گردید.**